

# الفبايي حرفونو او شمېرو سره لوبې وکړئ

د حروفو او شمېرو سره هر ډول لوبې شته چې کولې يئ شئ، د هغوی اشکالو او غږونو څخه نيولې تر د داسې نويو کلمو زده کولو پورې چې ورته لومړی حروف لري. تاسو داسې شمېرې لټولې شئ چې ستاسو ماشوم به يې وپېژني، لکه ستاسو د دروازې شمېره يا د دوی عمر، او وګورئ چې آيا تاسو دا شمېرې په بسونو، دوکانونو يا د سړک په نښو کې موندلی شئ. ياد دې وي چې حروف او شمېرې خو هر ځای کې شتون لري!

## د ستورو مشوره

خپل ماشوم سره په لوړ غږ شمېرې ووايئ - وموئ چې تاسو کور لوی دروازې ته د رسيدو لپاره څومره ګامونه بايد پورته کړئ يا پارک ته د تګ په وخت تاسو په څومره بربښنايي څراغونو تېرېږئ!

## د وړو خبرو فکر

د هغو حروفو په اړه وغږېږئ چې تاسو يې په ردي ډاګې ليکونو او زړو مجلو کې موندلی شئ. ځينې حروف راپرې کړئ او کولاژ يعنې مرکب انځورونه ترې جوړ کړئ. وګورئ چې آيا تاسو د خپل ماشوم د نوم لومړی توری موندلی شئ. که دوی لا تر اوسه دا حرف نه پيژني، يو ځای يې ورته وليکئ او وګورئ چې بل ځل چې تاسو له کوره بهر ياست، آيا دوی هغه حرف پيژندلی شي.

## 'زه پارک ته ځم'

يوه لوبه وکړئ چې پکې په وار وار سره ووايی چې تاسو به پارک ته چکر لپاره څه وړئ. قاعده دا ده چې تاسو يوازې د 'p' يعني د 'پ' غږ سره پيل کېدونکي شيان وړلی شئ (د مثال په توګه، 'I'm going to the park and I'm going to take a picnic/parrot/pencil'). تاسو د تلو ځای په بدلولو سره هم ډېر ساتيری کولې شئ (د مثال په توګه، د سمندر غاړې ته، چيرې چې تاسو کولی شئ يوازې د "s" سره پيل کېدونکي شيان راوړئ). ايا تاسو د وړلو لپاره هرڅه په ياد دي؟

## پلاستيسين يا د لوبو اوړه (play dough)

د پلاستينين څخه يوځای د حروفو شکلونه جوړولو هڅې وکړئ، يا د حروفو جوړولو لپاره د اوړه جوړ کړئ.

دا مواد سره ګډ کړئ:

- دوه پيالې ساده اوړه
- ½ کپ سړې اوبه
- د سبزيجاتو د تېلو درې کاشوغې
- يوه کاشوغه د نيمبو جوس (که خوښه مو وي)
- د خپلې خوښې هر ډول د خواړو رنګ يا ګليټر يا چمکېدونکي ذرات.

## د ورو خبرو فکر

د خپل ماشوم ژر لوستلو ته هڅولو لپاره، د حروفو نومونو پر ځای د حروفو غږونه وکاروئ. کله چې تاسو داسې لوبې کوئ لکه 'زه پارک ته ځم' يا 'زه جاسوسي کوم' او په ګډه د حروفو غږونه کاروئ، دا دوی د لوست زده کولو پر مهال د حروفو غږونه پېژندلو کې مرسته کوي.

